AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۳/۰۷/۲۵

# د ځينو کراماتو روايتونه څنګه زېږي؟

په روايتونو کې لولو، کوم چا له بودا څخه وپوښتل:
د جنت او دوزخ په اړه دې نظر څه دی؟
بودا ورته وويل:
همدا اوس هم په دوزخ کې يې، له دې دوزخه د ځانژغورنې هڅه وکړه، هغه دوزخ يا جنت ته به روسته ګورو، چې تول يې په اړه تصور کوي.
بودا فکر کاوه، چې د انسان هستي د هغه د رنځ و درد د غځېدو او استمرار په مانا ده او هله به له درد و رنځه بشپړ وژغورل شي، چې د نفسي غوښتنو او هيلو له کړی بشپړ ووځي. بودا د هستی له حرص څخه بشپړو وتلو ته «نيروانا» ويل.
بېدل وايي:

**ترکِ آرزو کردم رنج هستی آسان شد**
**سوخت پرفشانی‌ها کاین قفس گلستان شد**

د بېدل دغه ټول غزل، د بودايي فيلوسوفي او تفکر هنري لنډيز بللای شو.
دلته خبره د بودا د فکر منل يا نه منل نه دي.
کيسه بل ځای ده. تر بودا لسيزې او پېړۍ روسته، د هغه پلويانو په دغه جدي مفکر پسې ګڼې داسې کيسې وتړلې، چې د بودا په اروا کې هم نه ګرځېدې. روستيو بوداپانو شاهزوی «ګوتم بدهـ » ته د «مهاتما» يا (لويې اروا) لقب ورکړ، هغه يې د خدای يا د خدای د استازی تر بريده سپېڅلی وګاڼه او نړۍ يې د هغه له تمثالونو ډکه کړه.
فقيرمشربه بودا د ځانځانی پرېښودنې لپاره د پلار سلطنت پرېښی و.
ورته کيسه له حضرت عيسی (ع) سره پېښه شوه، مسلمانان باور لري، چې عيسی مسيح د خدای بنده او استازی دی او بس.
د عيسويت په متونو کې هم هغه د زغم، تواضع، ځان خوار ګڼلو، مينې او له تاوتريخوالي ډېده کولو پلوي بللی دی. د حضرت عيسی (ع) په اړه مشهوره ده، چې ويل يې:
که چا په کيڼ مخ ووهلې، ښی مخ ورواړوئ او که يې کوټ درڅخه واخيست کميس هم وروباسئ.
د ديني فيلوسوفي پوهانو حضرت عيسی د حضرت موسی په وړاندې انتي تېزس Antithesis ګڼلی. وايي: حضرت موسی سخت او غوسه ناک استازی و. قبطی يې په يوه څاپېړه وواژه او د خپل ورور حضرت هارون (ع) ږيره يې هغه مهال راوشکوله، چې د ده په غياب کې د ده د ناپامی يا کمزورۍ له امله بني اسرائيل په سامري راټول شوي و او زرين خوسکی يې پرېښته.
ويل کيږي، بني اسرائيل د حضرت موسی د دغه سنت پرېښت تاوتريخجن شوي وو او تل به يې شخړې او وژنې کولې، څکه خو خدای يو نرم، له زغمه ډک او د مينې موعظه کوونکی استازی (عيسی) راولېږه، چې کرکه، غچ او کسات يې بد ګڼل.
مګر روسته څه پېښ شول؟
د همدغه مينه ګرکي او متواضع استازي پلويانو هغه (نعوذبالله) د خدای زوی وګاڼه، په هغه پورې يې دروغجنې کيسې وتړلې، د هغه د دين ( خپل سياسي واک و ځواک) د ساتنې او پالنې لپاره يې څو پېړۍ صليبي جګړې وکړې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په خير و لولئ

او د لکونو انسانانو ويني يې وبهولې. په خپلو مسيحيانو يې هم رحم ونه کړ، زر کاله يې د کليسا او مسيح په نامه سلګونه زره انسانان ځناورانه وکړول، ووژل او د عقايدو په تفتيش کې يې وسيزل.
اسلام د عدالت، مساوات او ترحم دين و، پلويانو يې د خلافتونو پر سره يو بل سره ووژل او دومره وينې يې په خپلو کې سره وبهولې، چې تر دولسو پېړيو روسته هم لا يو بل د هماغو جګړو په سر له ګريوانه نيسي او اوسنۍ دوښمنۍ يې د هغو پېړيو د تربورګلويو په دوام رواني کړې دي، تمه يې هم دا ده، چې د دغو دوښمنيو له برکته به جنت ته ولاړ شي.
داسې ولې کيږي؟
دا د ټولو اديانو، ايډيولوژيو او ان فکري مکتبونو تاريخي آفتونه دي، چې پلويان يې په زياتېدونکي افراطيت کې ښکېليږي. افراطي پلوي له سپېڅليو انسانانو څخه خدايګوټي جوړوي. کرامات او معجزې روسته روسته پسې تړل کيږي او که څوک يې نه مني کافر و فاسق يې ګڼي. د ټولنې يوه برخه خلک دا هرڅه د ايمان له مخې مني. عقلاني او هوښيار وګړي د تکفير له ويرې چوپ پاتې کيږي او په دې توګه افراطي پلوي خلک د خرافاتو په ډنډ کې ډوبوي .
له تاريخي پلوه زياتېدونکي دغه افراطي پلوي هغه وخت لا ګواښمنه شي، چې ځينې هوښيار او چالاک وګړي يا ډلې يې د سياسي ځواک و واک ګټلو او ساتلو لپاره د وسيلې په توګه وکاروي.
په اسپانيا کې د مسلمانو عربو په وړاندې د عقايدو د تفتيش خونړی ماشين يوازې د مسيحيت د ژغورنې لپاره نه څرخېده، چې د لسګونه زره مسلمانانو وينې يې وبهولې او اسپانيا يې د اسلامي تمدن له رڼاپېره تشه کړه، خبره د مسيحيت تر چپنې لاندې د سياسي قدرت او اقتصادي ګټې وه.
د کيسې په زړه پورې اړخ دا دی، چې ټولو ته د خپل ايډيال ديني شخص کرامات ريښتيا ښکاري او د نورو ډلو د شخصيتونو کرامات ورته خرافات بريښي.
هغه جګړې، چې د سياسي واک و ځواک لپاره پېښې شوې، پېړۍ پېړۍ وروسته يې هم هر اړخ سپېڅلې ګڼي، د خپلو ايډيال اتلانو کرامات په خوبونو کې ويني او زر يونيم زرکاله پخوانی دوښمن ورته د شيطان سکه ورور ښکاري .
دوی ته به څوک ووايي، چې ډېر ځله د داسې جګړو دواړو خواوو ته د يوې کورنۍ وګړي جنګېدلي، د تره زامن، خپښان او د يوې کورنۍ غړي.
يو شمېر کرامات د هغوی تر څښتنانو پېړۍ پېړۍ روسته په هغوی پسې د دروغو او اتهام په بڼه ورغوټه کيږي .
دا د انساني ټولنو يو تاريخي دود دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ